د شيخ طريقت امير اهلسنت باني دعوت اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الياس قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه د ملفوظاتو تحريري ګلدسته

د امير اهلسنت نه د

# محبت رسول

## په باره کښې 14 سوالونه او جوابونه

(پښتو)



شیخ طریقت، امیر اہل سنت، بانی دعوت اسلامی، حضرت علامہ مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادری رضوی دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د امیرِ اھلِسُنَّت نه د محبتِ رَسُول پهٔ باره کښې 14 سوالونه او جوابونه

**دُعائے خلیفهٔ عطّار:** یا رَبِّ مصطفٰے! څوک چې دا رساله " د امیرِ اھلِسُنَّت نه د محبتِ رَسُول پهٔ باره کښې 14 سوالونه او جوابونه " ولولي یا واوري، ھغهٔ ته پهٔ محبتِ رَسُول کښې ناقلاره زړهٔ او پهٔ عشقِ نبي کښې اوښکې بهیوونکې سترګې عطا کړې او ھغهٔ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې۔

اٰمین بِجاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي، رَسُول ھاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** کوم مؤمِن چې د جُمعې پهٔ شپه دوه رکعته داسې وکړي چې پهٔ هر رکعت کښې د سورهٔ فاتحه نه پس 25 کرته " قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ " ولولي، بیا دا دُرُودِ پاک " صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّدِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ " یو زر کرته ولولي نو د راتلونکې جُمعې نه مخکښې به پهٔ خوب کښې زما زیارت کوي او چا چې زما زیارت وکړو الله پاک به د ھغهٔ ګناھونه معاف کړي۔ (القول البدیع، ص 383 )

د دې دُرُود شریف پهٔ فضائلو کښې شیخ عبدُ الحق محدِّث دِهلوي رحمۃُاللہِ علیہ نقل کوي: کوم کَس چې د جُمعې پهٔ ورځ یو زر کرته دا دُرُود شریف لولي نو هغهٔ به پهٔ خوب کښې د سرکار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم زیارت کوي، یا به پهٔ جنَّت کښې خپل منزل وه وینې، که پهٔ وړومبي ځل مقصد پوره نشي، نو پهٔ دویمه جُمعه دې هم دا ولولي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! تر پینځوو جُمعو پورې به یې د مدینے د سرکار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم زیارت نصیب شي-

(تاریخِ مدینه، ص 343)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**سوال:** د خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم سره خومره محبت کول پکار دي؟

**جواب:** د خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم سره د خپل مور پلار، آل اَولاد او هر خوږ [زړهٔ ته د نزدې] څیز نه زیات محبت ضروري دے- (1) هره جُمعه به

---

(1)... رَسُول اکرم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اِرشاد وفرمائیلو: لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ یعني پهٔ تاسو کښې یو کَس تر هغه وخت پورې کامِل مؤمِن نشي کیدے تر څو چې زهٔ هغهٔ ته د هغهٔ د پلار، اَولاد او ټولو خلقو نه زیات محبوب نشم- (بخاری، 1 / 17، حدیث: 15) د دې حدیثِ پاک لاندې شیخ عبد الحق محدث دِهلوي رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: د کامِل مؤمِن د اِیمان نخښه دا ده چې د مؤمِن پهٔ نزد رَسُول خدا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د ټولو څیزونو او د ټولو خلقو نه زیات محبوب او معظّم وي، پهٔ دې حدیث کښې د حضور صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د زیات

تاسو په خطباتِ رَضویه کښې اورئ : اَلَا لَا اِیْمَانَ لِمَنْ لَّا مَحَبَّةَ لَهٗ یعنې خبردار! د هغه ایمان نشته د چا چې د سرکار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت نشته- (خطباتِ رضویه، ص 6- دلائل الخیرات ، ص 47)

محبت غیر کی دِل سے نکالو یَا رَسُولَ الله　　مجھے اپنا ہی دِیوانہ بنالو یَا رَسُولَ الله

(ملفوظاتِ امیر اہلِ سنّت، 419/4)

**سوال:** د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د عشقِ رَسُول په باره کښې څه ارشاد کړئ- (1)

**جواب:** د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه عشقِ رَسُول هم بے مثاله وو- که څوک پرې څه لږ ډیر پوهیږي نو هغه دي د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه نعتیه کلام

---

محبوب کیدلو مطلب دا دے چې په حقونو ادا کولو کښې حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوچت اومنې داسې چې د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راوړے شوے دِین اومنې، د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سنتو پیروي وکړې، د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظیم او ادب وکړې او په هر کَس او هر څیز یعنې په خپل ذات، په خپل اولاد او په خپل مور پلار، په خپلو خپلوانو او په خپل مال او اسباب باندې د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا او خوشحالي مُقَدَّمه وساتې، د کومې معنیٰ چې دا ده چې خپل هر خوږ څیز تر دې چې د خپل ځان په قربانولو هم راضي شې خو د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حق پېژندل خوښ نه کړې- (اشعة اللمعات، 50/1 ملخصاً)

(1)... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب یې هم امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړے دے-

حَدائقِ بخشش لږ لږ رَټه کول شروع کړي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر لوئے عاشقِ رَسُول به جوړ شي- کوم څيز ته چې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نسبت حاصل دے اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د هغه څيز ادب فرمائيلو، تر دې پورې چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د مدينے منورې د سپې ادب هم کولو او دې لړ کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ حَدائقِ بخشش کښې شعرونه هم ليکلي دي، پهٔ يو ځائے کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

رضا کسی سگِ طیبہ کے پاؤں بھی چومے | تم اور آہ کہ اتنا دماغ لے کے چلے

(حدائقِ بخشش، ص 371)

پهٔ دې شعر کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ځان مخاطَب کوي او ارشاد فرمائي چې " اے رضا! چرته تا د مدينے د سپي ښپې هم ښکل کړې دي؟ تهٔ دومره نهٔ پوهيږې چې د مدينے د سپي ښپې ښکلولے کيږي-"

بعضې عقلمند پهٔ دې شعرونو نه پوهيږي چې له وجهې يـې هغوئي تنقيد شروع کړي- دا د نصيب خبره ده چې څوک تنقيد کوي او څوک د الله پاک پهٔ اوليائے کرامو پسې ځي او د ځان د پاره د جنَّت ذريعه جوړوي- چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مدينے منورې د سپو دومره ادب کوي نو د مدينے منورې سره د نسبت لرونکو نورو څناورو به څومره ادب کوي، بيا چې څوک د مدينے والا سره نسبت لري لکه د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم،

اهلِ بيتِ اَطهار او ساداتِ کرامو به ډېر ادب او احترام کوي- عام خلق د ساداتِ کرامو ډومره ادب کوي دا ما ته معلومه ده او ستاسو به هم د دې تجربه شوې وي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي والا د ساداتِ کرامو ډېر زيات ادب کوي او دا ټول ادب د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيه د فيضان نه تقسيم شوے دے-

مصطفےٰ کا وہ لاڈلا پیارا — واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی

غوثِ اعظم کی آنکھ کا تارا — واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی

سُنّیوں کے دِلوں میں جس نے تھی — شمعِ عشقِ رَسُول روشن کی

وہ حبیبِ خُدا کا دِیوانہ — واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی

(وسائل بخشش، ص 575)

( ملفوظات امیراہل سنّت، 303/1)

**سوال**: څوک چې مدينے منورې ته د تللو د پاره ناقلاره نه وي او نۀ د هغۀ زړۀ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ جدايۍ کښې غمژن وي نو هغۀ څۀ وکړي؟

**جواب**: چا له چې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ عشق کښې ژړا نه ورځي د غم کيفيت نه پيدا کېږي نو هغۀ دې کوشش وکړي او ژړغونے شکل دې جوړ کړي چې د ښو نقل هم ښه دے خو چې دا ژړا د رياکارۍ د پاره نه

وي- کوم خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې زمونږ پۀ غم کښې، د اُمَّت پۀ غم کښې اوښکې توئيولې، مونږ يـې يادولو، چې کله يـې دُنيا ته تشريف راوړلو د پيدا کيدو سره چې د چا رَبِّ هَبۡ لِیۡ اُمَّتِیۡ[1] (يعنې اے الله! زما اُمَّت اوبخښې، ما له يـې راکړې، ما ته يـې هبه کړې-) پۀ شونډو مبارکو باندې وو- ھُغه خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ مِعراج کښې هم اُمَّت ياد کړو- (سرور القلوب بذکر المحبوب، ص 95) چې کله يـې قبر مبارک ته تشريف يوړلو نو بيا يـې هم شونډې مبارکې خوزيدلې چې غوږ ورنزدې کړے شو نو اُمَّتي اُمَّتي (يعنې زما اُمَّت زما اُمَّت) يـې فرمائيلو-[2] نن هم اُمَّتي اُمَّتي فرمائي- (کنز العمال ، جز:14 ، 178/7، حديث:39108) بعضې وخت بنده پۀ غوږونو (شپيلې په شان) څۀ اواز اوري نو ھُغه وخت دُرُود شريف لوستل مستحب دي- اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه ليکلي دي چې دا د سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمَّتي اُمَّتي فرمائيلو اواز دے- (فتاویٰ رضويه، 712/30) بعضې وخت دا اواز چې چا ته رَبّ وغواړي واوروي ځکه ھُغه وخت دُرُود شريف لوستل پکار دي- کوم خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې مونږه دومره يادوي، پۀ ميزان عمل باندې د خپل ګنهګارو اُمَّتيانو د نيکو تله درنوي او چې کله

---

[1] … فتاویٰ رضويه، 712/30

[2] … مدارج النبوت، 442/2

يـې پهٔ پل صراط باندې اُمَّتيان تيرېږي نو هٔغه سجدې ته ځي او د رَبِّ سَلِّمْ اُمَّتِیْ "اے پروردګاره زما اُمَّت پهٔ سلامتيا سره پورې باسې" دُعاګانې کوي- ( ترمذی، 195/4، حديث:2441 بتغير قليل) او شفاعت کوي نو بيا به د هٔغه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت پهٔ زړهٔ کښې ولې نه پيدا کيږي- داسې دا خبرې او د هغوئي ژړا رايادوئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پهٔ زړهٔ کښې مو به د عشق کيفيات پيدا کيږي او د ژړا کيفيت به هم جوړيږي، لکه څنګه چې د مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ زړهٔ باندې لګيدونکے دا شعر:

ہائے پھر خندۂ بیجا مرے لَب پر آیا ہائے پھر بھول گیا راتوں کا رونا تیرا

(ذوقِ نعت، ص 25)

مولانا حسن رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ځان مخاطَب کوي او فرمائي: "افسوس چې زهٔ فضول پهٔ خندا شوم، يَا رَسُولَ الله! تاسو زمونږ د اُمَّتيانو د پاره د شپې ژړاګانې کولې ما هغه هيرې کړلې، د غفلت ښکار شوم چې زهٔ فضول خاندم-" دا هم د يادولو يو انداز دے- د دې نه علاوه د عاشقانِ رَسُول پهٔ صحبت کښې کښينئ، پهٔ 72 نيک اعمالو باندې عمل کوئ او د عاشقانِ رَسُول سره پهٔ مَدَني قافلو کښې سفر کوئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پهٔ عشقِ رَسُول کښې به مو د ژړا والا خوبي نصيب شي- الله پاک دې مونږ

ټولو ته د خوږ محبوب صلَّی اللّٰه علیه واٰلہٖ وسلَّم په یاد کښې ژړېدونکې سترګې راعطا کړي-

اٰمین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یادِ نبی پاک میں روئے جو عمر بھر　　مولیٰ مجھے تلاش اُسی چشمِ تر کی ہے

(ذوقِ نعت، ص 144)

(ملفوظات امیراہل سنّت، 385/1)

**سوال:** مابه د یو بیکری والا سره کار کولو هلته به د 12ربیعُ الاول په میاشت کښې د نعلین مبارک کیکونه جوړولے شول ، په بعضې کیکونو باندې به د"اللّٰه" یا د "مُحَمَّد صلَّی اللّٰه علیه واٰلہٖ وسلَّم " نوم لیکلے کیدل - خلقو به دا کیکونه کور ته وړل او په چاړه به یې کټ کول - زما پوښتنه دا ده چې داسې کول ټیک دي که غلط؟ آیا د نوم لیکونکو هم ګناه کیږي که نهٔ؟

**جواب:** په کیک باندې د لیکلو په باره کښې مو ډیر ځل عاشقانِ رَسُول پوهه کړي دي- ډیر خلق اوس داسې نه کوي او څوک چې اوس هم داسې کوي نو هغوئي پوهه کول پکار دي چې د کوم خوږ نبي صلَّی اللّٰه علیه واٰلہٖ وسلَّم نوم مبارک ښکلوې، فریم کوې یې او لګوې یې، د هغوئي په نوم باندې ځان قربانوې او بیا هم هغه مقدس نوم په کیک باندې لیکې او په لاس

کښې چاړه راخلې- ستا په عشق باندې څۀ شوي دي؟ لږ سوچ خو وکړئ چې تاسو څۀ کوئ؟ ما له خو دا هم خوند نه راکوي چې زۀ په الفاظو کښې دا بیان کړم- بیا دا چې نعلِ پاک کوم چې مونږ د سر سره لګوو او ارمان کوو:

جو سَر پہ رکھنے کو مل جائے نعلِ پاکِ حضور　　　تو پھر کہیں گے کہ ہاں تاجدار ہم بھی ہیں

(ذوقِ نعت، ص 188)

د نعلِ پاک د نقش د عظمت نه قربان شم! عاشقانِ رَسُول په دې ښه پوهیږي چې د نعلِ پاک شان او عظمت څومره دے خو بیا پته نه لګي چې په بعضو باندې څۀ وشي چې دا په کیک باندې جوړوي او په لاس کښې چاړه راخلي- داسې کول بے ادبي ده لہٰذا د دې بے ادبی نه بچ کیدل پکار دي چې با ادبه با نصیب- [1] (ملفوظات امیراہل سنّت، 399/2)

---

[1]...اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسنّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: (د خوراک په څۀ څیز باندې) د ساه نۀ لرونکي تصویر اګر که جائز دے خو دِیني معظم څیز مثلاً جومات وغیره په تصویرونو کښې کټ کول او خوړل به د ادب خلاف وي او هلته به بد نسبت هم لازم راځي چې فلانکي ګس جومات کټ کړو او جومات یې وخوړلو چې اهلِ عُرف تصویر هم د اصل په نوم سره یادوي- (فتاویٰ رضویہ، 560/24 بتقدم و تاخر)

**سوال:** پهٔ مَدَني چینل باندې ستاسو د مکـةُ الـمکرمه او مدینةُ الـمنوّره د حاضرۍ منظرونه خو مونږ لیدلي دي خو پهٔ مواجهه شریف کښې مو ستاسو د حاضرۍ منظرونه نه دي لیدلي دې لړ کښې څهٔ ارشاد کړئ-

**جواب:** ډیر کلونه وشول چې ما مواجهه شریف ته حاضري نه ده کړې ځکه چې ما خپل ځان د دې قابل نه دے ګڼلے چې زهٔ مخامخ حاضري وکړم نو داسې د هر چا خپل خپل ذوق وي-

## مُواجهه شریف ته حاضري نه کوونکے بزرګ

مشهور سُني عالِمِ دِین او عاشقِ رَسُول حضرت علّامه یوسف نبهاني رحمۃُاللہِعلیہ خوک چې د سَیِّدي قطبِ مدینه رحمۃُاللہِعلیہ د وخت بزرګ دے، د هغوئي پهٔ باره کښې حضرت علّامه محمد شریف کوټلوي رحمۃُاللہِعلیہ فرمائي چې ما به د مسجدِ نبوي شریف پهٔ بابُ السَّلام دروازه باندې د یو نُوراني مخ والا بزرګ لیدلو، یو ځل ما د هٰغې بزرګ سره ملاقات وکړو او د خپل تعارف کولو سره مې پوښتنه وکړه: تاسو صرف دلته پهٔ نظر راځئ ما تاسو چرته پهٔ مواجهه شریف کښې نه یئ لیدلي- هغوئي وفرمائیل: دا د سرکار صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم کَرم دے چې ما ته یې تر خپلې دروازې پورې اجازت راکړے دے او زهٔ دروازې ته رارسیدلے یم، زهٔ مواجهه شریف ته ځکه نه ځم چې د سپي کار د کور د دروازې څوکیداري کول وي هغه کور ته دننه

نه ځي، داسې هغوئي د عشق نه ډک جواب راکړو- (جواہر البحار، پیش لفظ، ص 10، ملفوظات امیراہل سنّت، 233/3)

**سوال:** دا خواهش کول څنګ دي چې د رَسُول الله صلَّى الله عليه واله وسلَّم پۀ شان زما عمر 63 کاله وي؟

**جواب:** د برابرۍ خواهش مۀ کوئ، د لږ کم کوئ- ما هم دا خواهش کړے وو او ډير ځل مې د دې اظهار هم کړے وو، خو اوس هُغه عمر تير شوے دے، "څۀ چې د مالِک مرضي وي"، پۀ خواهش لرلو څۀ ځي! دا د عشق او محبت خبره ده- (ملفوظات امیراہل سنّت، 181/4)

**سوال:** د عشقِ رَسُول سره د ژوند تیرولو څۀ مطلب دے؟

**جواب:** د اِنسان د مور پلار سره محبت وي او پکار هم دے- هم دغه شان د اولاد سره هم محبت وي ځکه خو د هغوئي د پاره کټه کوي او خوري پرې، د اختر پۀ ورځ ورته ښې ښې او قیمتي جامې اغوندي، د هغوئي د دارو دُرملو (یعني علاج) اِنتظام کوي، لکه چې خپل هر څۀ د اولاد د پاره قربانوي- نو د الله د خوږ حبیب صلَّى الله عليه واله وسلَّم سره د بال بچ، مور پلار، د خپل مال او د دُنیا د هر څیز نه زیات محبت پکار دے- (بخاری، 17/1، حدیث: 15) چې مونږ د خپل اولاد د پاره دومره څۀ کوو نو د سرکار صلَّى الله عليه واله وسلَّم د خوشحالولو د پاره څۀ څۀ نه دي کول پکار- محبت چې

کله زیاتیږي او ډېر زیات شي نو هغې ته عشق وئیلے شي- (احیاء العلوم، 29/5- احیاء العلوم (مترجم)، 68/5) مونږ ته پهٔ عشقِ رَسُول کښې ژوند تیرول پکار دي او د عشقِ رَسُول اعلیٰ درجه دا ده چې د رَسُول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم انداز او د هغوئي طور طریقې اختیار کړے شي، د هغوئي پهٔ نقشِ قدم او د هغوئي پهٔ سُنَّتو باندې روان شې، د هغوئي پهٔ احکاماتو باندې عمل وکړے شي- لکه څنګه چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمونځ حکم وکړو نو نمونځ وکړو، د روژو نیولو یې ارشاد وفرمائیلو نو روژې اونیسو، د ګناهونو نه د بچ کیدو یې وفرمائیل نو د ګناهونو نه ځان وساتو، د ښو اخلاقو او اعلیٰ کردار سره خپل ژوند تیر کړو- د دې ټولو څیزونو کولو والا عملاً هم عاشقِ رَسُول دے- ګنې چې څوک ګنهګار دے هغهٔ هم عاشقِ رَسُول کیدے شي- (ملفوظات امیراہل سنّت، 182/4)

**سوال:** د مدینے د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې اوښې د نوم سره رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا لیکلے شو؟

**جواب:** مَاشَآءَ اللّٰه! ډېره خوندوره پوښتنه ده- د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکې اوښې نوم "قصوا" وو- (تفسیر روح البیان، پ 14، النحل، تحت الآیۃ:7، 8/5) دا ډېره عاشقِ رَسُول اوښه وه- چې کله د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ظاهري وفات وشو نو دې اوښې خوراک پریښودے وو، نهٔ به یې خوراک

کولو او نۀ به يـې اوبه ښښلې، داسې د وړې ترې اوسيدو سره د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ غم کښې مړه شوه- ( تفسير روح البيان، پ 14، النحل، تحت الآية:7، 8/5–9 ماخوذاً) څناور مکلّف او د شريعت پابند نه وي، (فتاویٰ رضويه، 382/16) نۀ د هغوئي ګناه کيږي او نۀ ثواب- "رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ"

دُعا ده، د دې معنیٰ ده: " الله دې د هغوئي نه راضي شي-" زياتره دا جمله د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم د پاره وئيلے کيږي- د ولي د نوم سره پۀ وئيلو کښې هم څه باک نشته، پۀ دې حالت کښې به د دې جملې معنیٰ وي: "الله دې د هغوئي نه راضي شي-" (فتاویٰ رضويه، 390/23) صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم اګر چې جنتيان دي، خو بيا هم د هغوئي د پاره پۀ دُعا کولو کښې څۀ باک نشته، (خزائن العرفان، پ 28، الحشر، تحت الآية:10، ص 1011) بلکې پۀ قرآنِ کريم کښې د دې ذِکر دے- (صراط الجنان، پ 28، الحشر، تحت الآية:10، 77/10) د څناورو سره "رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ" نشي وئيلے- که چرې څوک يـې وائي نو خلق به ورپورې ټوقې کوي، خاندي به ، پۀ کشمکش کښې به اخته کيږي او حيرانيږي به- داسې هيڅ کار د شريعت خوښ نه دے کوم چې هيڅ بے هيڅه پۀ خلقو کښې د بحث موضوع جوړه شي- د هُغه خبرو نه بچ کيدل پکار دي کومې چې پۀ غوږونو باندې بدې لګې، داسې مسئلې جوړيږي- (ملفوظات اميراہل سنّت، 207/4)

**سوال:** پهٔ زړهٔ کښې عشقِ رَسُول څنګه زياتيدے شي؟

**جواب:** پهٔ سرکار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې پهٔ کثرت سره دُرُودِ پاک لوستل د عشقِ رَسُول زياتولو بهترينه ذريعه ده- نور دا چې رَسُول اللّٰه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مونږ باندې کوم احسانونه کړي دي د هغې د يادولو سره هم محبت زياتيږي چې زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اُمَّت د بخښنې د پاره ژړيدلو، (مسلم، ص 109، حديث:499 ) حالانکې څوک د نورو د پاره ژاړي! زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ځان د پاره نهٔ ژړل، بلکې زمونږ د پاره به يې ژړل- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پهٔ قبر کښې به هم د هغوئي ملګرتيا نصيب کيږي، که د هغوئي کرم راسره وي نو پهٔ ځنکدن کښې به هم ديدار راکوي، تر دې پورې چې د قيامت پهٔ ورځ به پهٔ پل صراط باندې اُمَّت تيريږي او هغوئي به د اللّٰه پاک پهٔ بارګاه کښې رَبِّ سَلِّم! رَبِّ سَلِّم! عرض کوي چې يا اللّٰه! زما اُمَّت پهٔ سلامتيا سره پورې باسې- (مسلم، ص 106، حديث:482) چرته چې به اعمال تللے کيږي هلته به هم خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو غلامانو د نيکو تَله درنوي، (ترمذی، 195/4، حديث:2441) هلته به هم دعاګانې کوي، داسې به شفاعت کوي- داسې د سرکار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم احسانونه دومره دي چې مونږ يې شميرلے نشو، د دې اِحسانونو د يادولو سره به هم محبت زياتيږي- د اعلیٰ

حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د ورور حضرت مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَةُاللهِ عَلَيه يو شعر دے:

شکر ایک کَرَم کا بھی اَدا ہو نہیں سکتا دِل تم پہ فدا جان حَسن تم پہ فدا ہو

(ذوقِ نعت، ص 144)

(ملفوظات امیراہل سنّت، 225/5)

**سوال:** د دې شعر وضاحت وکړئ:

جسے مل گیا غمِ مصطفےٰ، اُسے زندگی کا مزہ ملا کبھی سَیلِ اشک رواں ہوا کبھی آہ دل میں دبی رہی

**جواب:** د دې شعر مطلب دا دے چې د چا د مدینے منورې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عشق نصيب شو د هغهٔ د خوږ مصطفےٰ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غم نصيب شو لکه چې د هغهٔ د ژوند مزه نصيب شوه، ځکه چې د عشقِ رَسُول ژوند اصلي ژوند دے، کله د خوږ مصطفےٰ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ محبت کښې د سترګو نه اوښکې رواني شوې او کله اوښکې اونه بهيدلې خو هغه محبت پهٔ زړهٔ کښې دننه پاتې شو- مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي:

اے آہ! میرے دل کی لگی اور نہ بجھتی کیوں تونے دھواں سینۂ سوزاں سے نکالا

(ذوق نعت، ص 60)

يعنې آه بهر راوتلو نو يخ والے پيدا شو، نو اے آه! تهٔ ولې بهر ووتلې؟ که چرې بهر نه وتلے او لمبه کيدلے، بيا وائي پهٔ عشق کښې د سوزيدلې سينې نه تا لوګے ولې ويستلو چې زړهٔ سوزيدلے نو د هغې خپله مزه وه- (ملفوظات امیراہل سنّت، 25/8)

**سوال:** انسان څنګه د دواړو جهانونو د سرکار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محب جوړيدے شي؟

**جواب:** چې د چا سره محبت زياتول وي نو د هغهٔ خوبيانې معلومې کړئ- زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک پهٔ عطا سره د ټولو خوبيانو جامع دے، د رَسُول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې درته څومره هم خوبيانې معلوميږي دومره به مو عشقِ رَسُول زياتيږي، لهٰذا سيرت لولئ او د نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِين د پاره ورکړے شوې قربانۍ، د دې سره پهٔ اُمَّت باندې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفقت انداز معلومات حاصل کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! عشقِ رَسُول به مو زياتيږي- نور دا چې دُرُود شريف زيات لولئ- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه نُسخه دا هم بيان کړې ده چې ”د ښه اواز والا قاري نه د قرآنِ کريم د تلاوت اوريدو سره د الله پاک سره محبت زياتيږي او د ښه اواز والا نعت خوان نه د نعت شريف اوريدو سره عشقِ رَسُول زياتيږي-“

(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 173) نعتونه هم هُغه اورئ کوم چې د شريعت مطابق وي، لکه اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ داسې عاشقِ رَسُول دے چې د هغوئي د قلم نه وتلې هره يوه مصرع، بلکې هر يو لفظ پهٔ عشقِ رَسُول کښې ډوب وي، د داسې خلقو د کلام اوريدو سره پهٔ زړهٔ کښې عشق زياتيږي، تر دې که پوهيږئ پرې نهٔ نو هم به مو زړهٔ مطمئين وي چې د هغوئي کلام د شريعت مطابق دے، که څهٔ حاصليږي او که نهٔ، خوشحاليږئ- دا زهٔ د هغوئي انداز بيانوم ځوک چې د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ نه واقف دي- عام طور د نورو خلقو پهٔ کلام کښې دا خبره نه وي- د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د ورور، شهنشاهِ سُخن مولانا حَسَن رضا خان رحمۃ اللہ علیہ، شهزادهٔ اعلیٰ حضرت، حضور مُفتي اَعظم هِند مولانا مصطفٰے رضا خان رحمۃ اللہ علیہ (1) او د علمائے اهلِسُنَّت د نورو علمائے کرامو د ليکلے شوو کلامونو د لوستلو اوريدلو سره به هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! عشقِ رَسُول زياتيږي- (ملفوظات اميراہل سنّت، 102/10)

---

(1)... د اَعلیٰ حضرت د ورور مولانا حَسَن رَضا خان صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ د نعتيه کلامونو مجموعه "ذَوقِ نعت" او د شهزادهٔ اَعلیٰ حضرت، حضور مفتي اَعظم هِند مولانا مصطفٰے رَضا خان صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ د نعتيه کلامونو مجموعه "سامانِ بخشش" ده- مکـتبة الـمدينه دا دواړه کتابونه پهٔ ډير ښکلي انداز کښې چاپ کړي دي، هدیةً يـې حاصل کړئ- (شعبہ ملفوظاتِ امیرِ اَہلِ سُنّت)

**سوال:** د رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ شان کښې د شوې ګستاخۍ ویډیو کتل او وړاندې لیږل څنګه دي؟

**جواب:** د رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ شان کښې د شوؤ ګستاخانه خاکو او ویډیوز کتل نه دي پکار او نهٔ نورو ته لیږل پکار دي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما هم تر ننه پورې نهٔ داسې ویډیو کتلې ده او نهٔ مې د کتلو کوشش کړے دے- لږ سوچ خو وکړئ! که څوک زمونږ د پلار کارټون یا نا زیبا خاکې جوړې کړي نو آیا مونږ هغه کتلے شو؟ هیڅکله هم نهٔ! بیا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ چا باندې چې زمونږه نسلونه، زمونږ پلار نیکونه ټول قربان شه، د هغوئي د ګستاخۍ پهٔ خاکو باندې مشتملې ویډیوګانې کتل او نورو ته لیږل به زمونږه عشق څنګه مني! مونږ خو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف تعریف اورو، د لږې شان کمزورې خبرې د اوریدو د پاره هم زمونږه غوږونه کاڼه دي، ځکه چې د محبوب خوبیانې کتلے شي او زمونږه محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو داسې دے پهٔ چا کښې چې د خوبیانو نه علاوه هیڅ نشته- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

وہ کمالِ حسنِ حُضور ہے کہ گمانِ نقص جہاں نہیں

یہی پھول خار سے دور ہے یہی شمع ہے کہ دھواں نہیں

(حدائقِ بخشش، ص 107)

(ملفوظات امیراہل سنّت، 373/10)

**سوال:** چې کله د نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم راشي نو د لاسونو غټې ګوتې ولې ښکلولے شي؟ (1)

**جواب:** د نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نوم باندې غټې ګوتې ښکلول جائز دي، پۀ دې کښې هيڅ باک نشته، خاص طور پۀ اذان کښې د غټو ګوتو ښکلولو مختلف روايتونه موجود دي، (2) دا داسې خبره ده چې پۀ دې باندې د دليل وړاندې کولو هډو ضرورت نشته- چې کله ماشومان ښه ولګي نو هغوئي ښکلولے شي، قرآن مونږ ته ښه ښکاري نو هغه ښکلولے شي، هم داسې د مور پلار او علمائے کرامو لاسونه او ښپې ښکلولے کيږي، پۀ دې وخت کښې دا خبره ذهن ته نه راځي چې د دې څۀ دليل دے؟ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نوم باندې د غټو ګوتو پۀ ښکلولو باندې شيطان وسوسه راچوي چې د دې څۀ دليل دے؟ اعلیٰ حضرت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ دې

---

1.... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب هم امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړے دے-

2... حضرت سَيِّدُنا ابوبکر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې پۀ اذان کښې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک واريدلو نو خپلې د شهادت غټې ګوتې يې ښکل کړې او د سترګو سره يې ولګولې، خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا وليدل نو ارشاد يې وفرمائيلو: څوک چې زما د دې خوږ دوست پشان وکړي د هغۀ د پاره به زما شفاعت حلال وي- ( المقاصد الحسنة، ص 390، حديث: 1021)

موضوع باندې یوه رساله پهٔ نوم "مُنِیرُ العَینِ فِی حُکمِ تَقبِیلِ الاِبهَامَینِ" لیکلې ده پهٔ کومه کښې د غټو ګوتو پهٔ ښکلولو باندې ډیر دلیلونه موجود دي، د دې سره سره د نـمونځ پهٔ احکامو کښې یوه رساله پهٔ نوم ''فیضانِ اذان'' هم ده پهٔ کومه کښې چې د غټو ګوتو په ښکلولو باندې دلیلونه موجود دي۔

عشق دے جھلے ای نمبر لے گئے عقل منداں اینویں عمراں گالیاں

یعنې کوم عشق چې د شریعت پهٔ کربنه کښې دننه وي داسې عشق کوونکي وړاندې لاړل۔ د دې نه د نن سبا د صوفیانو پهٔ شکل خلق مراد نه دي کوم چې د ملنګانو جوړیدو سره نشې کوي او وائي چې ''مونږ رسیدلي خلق یو، مونږه عاشقان خلق یو'' داسې خلق صرف د شیطان عاشقان وي، ځکه چې څوک د رَسُول الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم عاشق وي هغهٔ به چرې هم د شریعت خلاف ورزي نه کوي۔

(ملفوظات امیراہل سنّت، 399/10)

**سوال:** پهٔ اوسنۍ زمانه کښې د بده قسمته زمونږ د خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم مَعَاذَ الله! ګستاخانه خاکې جوړولے شي او د ټولې دُنیا د مسلمانانو زړونه ازارولے کیږي! دا ارشاد وفرمایئ چې مونږ د دې خاکو جوړونکو


بدبختو څنګه بائيکاټ وکړو او داسې کوم يو عمل وکړو د کوم په ذريعه چې زمونږه زړونو ته سکون ورسي؟

**جواب:** مسلمانان عملي طور کمزوري کيږي او د رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګستاخان نه غواړي چې مسلمانان عملي طور مضبوط شي، لهٰذا مونږ ته د دوئي عملي بائيکاټ کول پکار دي، که ذهن مو جوړ شي نو په ټوله دُنيا کښې د "فيضانِ عشقِ رَسُول" په نوم سره جوماتونه جوړ کړئ او ګستاخانو ته ووايئ چې تاسو څومره هم ګستاخيانې کوئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! مونږه به هُغه همره جوماتونه جوړوو او هغه به ابادوو او ستاسو عملي بائيکاټ به کوو! د دې سره سره که کيدے شي نو مخکښې چې کوم جامعاتُ المدينه جوړيږي په هغې کښې دې د بعضو نومونه هم دا کيښودے شي، ځکه که د ټولو جامعاتو نومونه يو شان کيښودلے شي نو فرق کول به پکښې ګران وي، ځکه دې مجلس د خپل مرضۍ مطابق د بعضې جامعاتو نومونه دا کيږدي- عموماً چې کله داسې قِسمه زړۀ بوږنيدونکې واقعې رامخې ته کيږي نو مسلمانان ډير د جوش او غضب نه کار اخلي، کيدے شي چې په جوش کښې د راتللو سره د جومات جوړولو نيت هم وکړي، خو وروستو د شيطان په وسوسو کښې د راتللو سره يا په قِسما قِسم حيلو بهانو جوړولو سره محرومه پاتې شي، لهٰذا د نيت کولو سره پيسې بيلې کړئ چې دا د جومات شوې، بيا چې کله په علاقه

کښې جومات جوړیږي نو پهٔ هغې کښې خپله حصه ضرور شامله کړئ- الله پاک دې ګستاخانو ته هدایت وکړي چې هغوئي ګستاخي پریږدي او عاشقِ رَسُول جوړ شي- یاد ساتئ چې د ګستاخِ رَسُول د اِسلام سره هیڅ تعلق نشته، اګر که هغهٔ خپل ځان ته مسلمان وائي، ځکه چې د سرکار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ شان کښې لږه شان ادنیٰ ګستاخي کوونکے هم کافِر او مُرتد دے او د هغهٔ نکاح ماتیږي- (بهارِ شریعت، 463/2، حصہ: 9) هغهٔ به همیشه پهٔ دوزخ کښې وي، د هغهٔ دُنیا او آخرت دواړه برباد دي- (ملفوظات امیراہل سنّت، 405/10)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله




فيضانِ مدينه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net